Hospice général

**په اړه د: د جنورۍ 2025 څخه د ټولنیزې هوساینې بدلونونه**

د اړوند کس د پام وړ:

د ټولنیزې هوساینې نوی قانون، د ټولنیزې هوساینې او د فقر پر وړاندې د مبارزې قانون (LASLP) به په جنورۍ 2025 کې نافذ شي. د Hospice général سره به ستاسو په اړیکو کې ځینې بدلونونه راشي او دا بدلونونه به هر چا ته ګټه ورسوي.

د دې قانون اصلي موخه د ټولنیزې هوساینې ګټه اخیستونکو ته د وړاندیز شوي ملاتړ پیاوړي کول دي ترڅو د دوی ټولنیز او مسلکي ادغام اسانه کړي. د دې هدف په جینوا کې د بې وزلۍ یا فقر ننګونو سره مقابله کول او ټولنیزې هوساینې ته د لاسرسي اسانه کول هم دي.

له همدې امله ستاسو مالي ګټې به زیاتې شي او یو ځلي پیسې به ور اضافه شي. دا یو ځلي پیسې به تاسو وتوانوي چې ځیني بیلونه پخپله مدیریت کړئ، کوم چې تاسو مخکې Hospice général ته سپارل. پدې توګه تاسو به د خپلې بودیجې په مدیریت کولو کې لا ډیر خپلواکه اوسئ.

د کار پیل کولو یا ورته بیرته ستنیدو کې ستاسو د ملاتړ لپاره، حتی د نیم وخته کار په اساس، په عاید د مجرایي وړ مقدار به سمدلاسه پلي کیږي هر کله چې تاسو عاید ترلاسه کول پیل کړئ. له همدې امله، ستاسو کار کولو سره به ستاسو میاشتنی عاید زیات شي.

په نوي قانون کې نور بدلونونه هم راوستل شوي دي. **د نورو معلوماتو لپاره**، مونږ تاسو ته بلنه درکوو:

- توضیحي ویډیوګانې او اسناد د لاندې لینک له لارې وګورئ او ولولئ: **laslp.hospicegeneral.ch**
- د کال پای ته رسیدو دمخه د Hospice général کارمندانو له غړي سره لیدنه وکړئ، ترڅو د دوی سره د خپل ځانګړي وضعیت په اړه بحث وکړئ

په درنښت،

د Hospice général اداره

Mieux vivre ensemble à Genève
hospicegeneral.ch